PROPERTY OF PACKU

DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۹۳۱

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال - دویمه دوره، ۹۳۱ مه ګڼه، پر له پسې ۱۹۹۸ګڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د لیندۍ ۱٤ مه - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق ذوالحجة الحرام ۲۹ مه ۲۰۱۰ د ډسمبر ۵ مه

راز تقرر والی ها را هم بدانید!؟

حکومت افغانستان در ماه سنبله سال ۱۳۸۶ برای تعیین هرچه بهتر والی‌ها و تأمین ارتباط مستقیم آنان با مقام ریاست جمهوری، ریاست مستقل ارگان‌های محل را ایجاد نمود و تمامی وظایف و صلاحیت‌های بخش ملکی وزارت داخله را که شامل پیشنهاد و تعیین والیان و ولسوالان می‌شد، به این ریاست واگذار کرد. از ابتدای ایجاد ادارهٔ ارگان‌های محلی، غلام جیلانی پوپل به حیث رییس عمومی آن تعیین گردید.

به گزارش کلید گروپ، در حالی که توقع می‌رفت ص۳

د شپې له خوا د اوباما ناڅاپي سفر څه مانا؟



وړمه ورځ مانبام ناوخته د امریکا ولسمشر بارک اوباما دیوه ناڅاپي سفر په ترڅ کې افغانستان ته راغی او د خپل سفر نژدې درې ساعتونه یې یوازې له خپلو سرتېرو سره تېر کړل. نومورې د خپلې خانګړې الوتکې په واسطه مستقیماً د باګرام په هوایي ډګر کې رانبکته شو، چېرې چې په افغانستان کې د امریکایانو تر ټولو ستره پوځي اډه بلل کېږي. اوباما غوښتل چې کابل ته هم راشي او له خپل افغان سیال کرزي سره هم لیده کاته وکړي، خو د هواد خرابوالی ده ته تر ټولو ښه پلمه شوه، چې کابل ته خپل سفر لغوه کړي. یوازې دومره یې وکړل، چې د خپل درې ساعتني سفر په پای کې یې پرېکړه وکړه، چې راځه له کرزي سره ټېلېفوني اړیکه ونیسه او پر ټېلېفون یې له کرزي سره خبرې وکړې، نور یې نه کرزی ولیدا او نه هم د کرزي دولتي انډیوالان. ځکه ده خپل هدف پوره کړ او له خپلو پوځیانو سره یې وکتل، نور څه ورته ارزښت نه درلود، خپل پوځونه یې وستایل او دده په وینا د افغان جګړې په لړ کې یې د هغوی پرمېرانه وویاړل او د لانورو پرمختګونو په خاطر یې نور هم وهڅول. که څه هم دده د سفر په اړه داسې انګېرل کېده، چې اوباما به په دغه سفر کې د افغان ولسمشر لپاره مهم پیغام له ځانه سره وړی و، ځکه دا مهال که له یوې خوا په افغانستان کې د ولسي جرګې له تاوتریخوالو ډکو ټاکنو او

۳مخ

ویکی لیکس و سوالات بی‌پاسخ

به دنبال انتشار بیش از ۲۵۰ هزار اسناد محرمانه توسط سایت ویکی لیکس، گمانه‌زنی‌های مختلفی در مورد اقدامات اخیر این سایت جنجالی مطرح شده است. این سایت در مورد افغانستان نیز هزاران سند را به نشر سپرده است. سوالات فراوانی در مورد اهداف این سایت، صحت اسناد منتشر شده و اینکه به واقع چه فردی یا گروهی از انتشار این اسناد سود یا ضرر می‌کنند، مطرح است که نبود پاسخ های روشن برای آنها ابهامات در مورد این اقدامات ویکی لیکس را افزایش می‌دهد.

روزنامهٔ کریستین ساینس مانیتور در گزارشی در مورد افشای این معلومات محرمانه می نویسد: " در حال حاضر بسیاری "برادلی مانینگ" یک افسر پنتاگون را به اتهام افشای این معلومات محرمانه محکوم می‌کنند، اما دولتی که می‌تواند، جنگ به راه بیندازد؛ در حالی که معلومات لازم برای دلایل به راه انداختن جنگ در اختیار دارد و مخفی کاری می کند، نه یک دولت آزاد است و نه به درد مردم آزاداندیش می‌خورد.

مشکلات دولت امریکا با سایت ویکی لیکس هم چنان ادامه دارد و دولت اوباما به شدت افشای این معلومات را محکوم کرده است. کاخ سفید افشای این معلومات را خطرناک و عجولانه توصیف کرده است.

برادلی مانینگ پس از انتشار نوار ویدیویی ص۳

افغان کرکټ لوبډلې د لویو وچو اتلولي ترلاسه کړه

د افغانستان کرکټ لوبډلې په دوبۍ کې د دویم ډویژن د ټیسټ میچونو په پای لوبه کې سکاټلنډ ته په ۷ ویکټو ماتې ورکړه او په دې ډول د دویم ډویژن د ټیمونو جام یې ترلاسه کړ.

په لومړي پړاو کې د سکاټلنډ لوبغاړو ۲۱۲ منډې وکړې چې په ځواب کې یې افغان لوبغاړي د ۱۷۱ منډو له جوړېدو سره وسوځېدل. خو کله چې دویم ځل سکاټلنډ ته نوبت ورغی افغان باولرانو د دوی ټول لوبغاړي د یوازې ۸۲ منډو له ورکلو سره له مخې لرې کړل او د یو سل او څو ویشت منډو هدف ته یې په اسانۍ ځانونه ورسول.

د افغانستان له لوري حمید حسن د تل په شان لکه لمر وځلېد او د مخالف لوري اته لوبغاړي یې اوټ کړل. میرویس اشرف شپږ لوبغاړي اوټ کړل او سیمع الله شینواري په دویم ځل درې لوبغاړي وسوځول.

د افغانستان په بیټسمینانو کې کپتان نوروز منګل ښه لوبه وکړه په لومړي پړاو کې ده تر پنځوسو ډېرې منډې وکړې. د ده ښې منډې وې چې افغانستان د سکاټلنډ

۳مخ

په افغانستان کې د کار ډدونکو درملو کیفیت خورا ټیټ دی

د مشرانو جرګې د عامه سوکالۍ کمېسیون د عامې روغتیا، کار او ټولنیزو چارو وزارتونو او د چاپېریال ساتنې د اداري په ګډون د یوشمېر ارګانونو له چارواکو سره په دې هدف غونډه وکړه چې د روغتیایي ستونزو د هوارۍ لا ګټورې لارې چارې ولټوي.



د مشرانو جرګې دویم مرستیال محمد علم ایزدیار وویل، چې نا امنیو او جګړو په افغانستان کې د ځینو نورو برخو په شان په عامې روغتیا کې هم پرمختګونه ټکنې کړي دي.

نومورې وویل

۳مخ

به رغم کمک های میلیارد دالر خارجی،

حدود یک چهارم مردم افغانستان از گرسنگی رنج می برند

سازمان ملل دیروز با درخواست برای کمک مالی بشردوستانه ۶۷۸ میلیون دالری برای مردم افغانستان اعلام کرد، به رغم کمک های میلیونی خارجی، حدود یک چهارم مردم این کشور ازگرسنگی رنج می برند.

به گزارش خبرگزاری رویترز از کابل، 'کاترین براگ'، دستیار سرمنشی سازمان ملل در امور بشردوستانه گفت، حدود ۷/۴ میلیون افغان با گرسنگی دست و پنجه نرم می کنند و درحالی که میلیون ها تن دیگر از مردم افغانستان با مواد غذایی کمکی از دیگر کشورها به سر می برند؛ از هر پنج کودک افغان یک کودک قبل از رسیدن به سن پنج سالگی جان خود را از دست می دهد.

براگ که سمت معاونت ریاست کمک رسانی اضطراری سازمان ملل را نیز عهده دار است، طی بیانیه یی

ص۳



دري پنځوسم ایالت

د لوی اوبشونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

سفر گیلانی به کابل و دشواری های روابـط افغانستـان و پاکستـان

سید یوسف رضا گیلانی نخست وزیر پاکستان دیروز طی سفر دو روزه وارد کابل شد. گیلانی که به دعوت رییس جمهور کرزی به کابل سفر نموده است، به شمول رییس جمهور کرزی که دیروز با ایشان دیدار داشت، با شماری از مقام های بلندرتبهٔ افغان از جمله معاونان رییس جمهور، رییس پارلمان و رییس شورای عالی صلح دیدارهایی خواهد داشت. افزون بر این گفته می شود که گیلانی در مراسم افتتاح سفارت جدید پاکستان و شفاخانهٔ جناح که به کمک این کشور در شهر کابل اعمار گردیده است، نیز اشتراک خواهد کرد.

ازآنجایی که مقام های افغانستان برخی عناصر در درون حکومت پاکستان را به حمایت و نگهداری از رهبران طالبانی که در پاکستان اقامت دارند، متهم می سازند، مناسبات بین این دوکشور اسلامی که هر دو متحدان عمدهٔ ایالات متحدهٔ امریکا در جنگ به اصطلاح علیه تروریزم در منطقه می باشند، زود زود دچار تشنج می شود.

بدون تردید، سفر یوسف رضا گیلانی به کابل، در دید اول، می تواند نوعی نمایش خاطر خواهی و دادن اطمینان به امریکا و غرب از سوی زعامت آن کشور درمورد استمرار همکاری در مبارزه علیه خشونت ودهشت افگنی درافغانستان باشد. مگر در واقعیت امر، هدف کلیدی چنین اقدامی، اعادهٔ اهمیت وهویت استراتیژیک یا بازسازی اعتبار مخدوش شدهٔ پاکستان در انظار قدرت های غربی و تشویق آنان به استمرار سرمایه گذاری بالای پاکستان است.

صدراعظم پاکستان درنشست مشترک دیروز خود با حامد کرزی، بار دیگر آقای کرزی را اطمینان داد که با تروریزم مبارزه می کند و با افغانستان دوش به دوش تروریزم را محو می کند، اما در حالی که مقام های افغان و برخی مجامع غربی پاکستان را در خشونت های جاری افغانستان مقصر دست اول می دانند، آیا گیلانی راست می گوید، این بار صداقت به خرج می دهد و نسبت به افغانستان با صداقت عمل می کند؟ به نظر می رسد که نه خیر، پیش از این نیز رفتارهای دیپلوماتیک پاکستان مشابه به این بوده است، اما مهم این است که آنها در عمل همیشه مخالفان را تقویت کرده اند. زیرا گیلانی این صلاحیت را در پاکستان نخواهد داشت که استراتیژی کشورش را درقبال افغانستان تغییر دهد، بلکه این جنرالان وافسران نظامی این کشور است که در مورد افغانستان و دیگر کشورهای همسایه تصمیم می گیرند، پس باید زیاد به قول های چرب گیلانی خوشبین نباشیم و خوشبینی هم وجود ندارد که پاکستان پس از این بخواهد، رابطه اش را با افغانستان تقویت کند و بخواهد که افغانستان پس از این توسعه یابد. با توجه به آنچه پاکستان پیش از این انجام داده است؛ این مسأله را نباید فراموش کرد که پاکستان در پی منافع اش در افغانستان است، تا زمانی که این منافع برآورده نشود، ابتکارات صلح از آن وی نباشد، فکر نمی شود، که پاکستان گام های صادقانه بردارد.

بنابراین، چنین به نظر می رسد که سفر گیلانی به کابل در ذات خود درامر پایه داری و بقای قدرت مقام های کابل کمترین تأثیری نخواهد داشت و مانند آنچه دراعلامیه های رسمی به عنوان یک دیدار سازنده، سودمند و امیدوار کننده برای دو کشور خوانده می شود، نخواهد بود. این سفر در بهترین حالتش می تواند، یک سفر خدا حافظی به شیوهٔ جورج بوش باشد؛ زیرا در پاکستان نیز نظامیان در کمین است؛ شاید اگر بخت با آقای گیلانی یاری کند، مقام های کابل مواظب باشند که وی به پاس خدمات حزب مردم پاکستان در امر تخریب بنیادهای مدنی و زیربنایی و جلوگیری از شکل گیری یک حاکمیت ملی درافغانستان، ازگزند رسوایی پرتاب یک جوره کفش سنگین زمستانی در کابل در امان بماند.

دري پنځوسم ایالت

لیکوال: پښتون خروټی



د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د واک د ځواک چینې په ښکاره زیاتره په پاکستان کې وې، په پاکستان کې نه وې؛ بلکې د پاکستان له حکومت او چارواکیو سره وې، هغه مهال هم (افغان) او (افغانستان) هر شببه خپله بڼه بدلوله، پاکستاني؛ بلکې پنجابي رنګونو د هېواد زیاتره برخه نیولې وه، تر دې چې په کونړ او جلال اباد کې د هټیوالو لوحې هم په اردو ژبه اوښتې وې. د هېواد په ختیزه سیمه کې د افغانیو پر ځای د کلدارو چلښت خو یې لا تر اوسه غوره او ژوندۍ بېلګه ده، چې اوسنۍ اداره لا ورته وزګاره هم نه ده، چې دا ستونزه دې حل کړي. ځکه اوسنۍ د کرزي صیب غربیې اداړې لا تر اوسه خپل ځان نه دی راټول کړی، دغسې ستونزو ته رسیده ګي خو لا د ډېر وخت غواړي.

هغه مهال هم داسې وه چې د دې هېواد د واک پر ګدۍ ناست واکمنان به په تورو موټرو کې تر اسلام اباد او کراچۍ بې له کومې ودرونې، پلټنې او ګروېرنې تلل راتلل او د هغې خوا مسوولین، چې دلته د ځانګړیو ماموریتونو لپاره ګومارل شوي وو، تر کابله او مزاره، لنډه دا چې پاکستانیانو به افغانستان خپله پنځمه صوبه بلله او دې ته به خوشحاله هم وو؛ خو ځینو افغانانو به ورسره نه منله، ځینو به په دې اړه غبرګون ښوده او ځینو به لا ویل چې په اسلام کې سرحد نشته، مورږ او پاکستان یو هېواد او ملت یو. زه پر دې نه غږېږم چې چا ولې دا ډول خبرې کولې او څوک پر حقه وو؟ ما ته په زړه پورې ټکی دا دی، چې که دلته هغه بله ورځ د شوروي په خوښه نظام جوړ و، نو افغانستان په کې د شوروي پر وړاندې خپل هویت له لاسه ورکړی و، که پرون د پاکستان په خوښه نظام رامنځته و، نو د پاکستان پر وړاندې یې هویت له لاسه ورکړی و او که نن د امریکا او د لوېدیزو هېوادونو په خوښه نظام رامنځته دی؛ نو افغانستان د دوی پر وړاندې خپل هویت له لاسه ورکړی دی. که هغه بله ورځ افغانستان د شوروي یو جمهوریت ګڼل کېده، پرون د پاکستان پینځمه صوبه وه؛ نو نن د امریکا دري پنځوسم ایالت دی.

راځئ، چې د احساساتو له بامه راکښته شو، زه وایم دري پنځوسم ایالت تور وي که سپین؟ کله چې د امریکا ولسمشر بارک اوباما پرته له کومه وړاندوینې خبر څخه په یو ناڅاپي توګه کابل ته راځي، له خپلو ځواکونو سره ګوري او ددې اړتیا هم نه احساسوي، چې د افغانستان له ولسمشر حامد کرزي سره وګوري، کله چې امریکایي او بهرني ځواکونه هر وخت، په هر ځای کې دا حق لري چې د هر افغان پر کور ورشي، مال یې لوټ کړي، سر یې یوسي، پرته له دې چې هغه دې کومه ګناه کړي وي، کله چې د ولسمشر په توګه د حامد کرزي په ناخبرۍ کې دده د اداړې یو سیمه ییز واکمن د بهرنیو پوځیانو له خوا وژل کېږي او کورنۍ یې له ځان سره بیول کېږي، کله چې افغانان د بهرنیو ځواکونو له لاسه پر خپلو سړکونو، واټونو او لارو د تللو حق نه لري، نو په داسې حال کې چې افغانستان د امریکا یو ایالت ونه ګڼل شي، څه وخت وګڼل شي؟

ښکاره خبره ده چې د امریکا ولسمشر بارک اوباما افغانستان ته راته؛ نو د نړیوالو اړیکو د اصولو له مخې یې باید واردمخه د خپل سیال په توګه له ولسمشر حامد کرزي سره اړیکه نیولې وای او له خپل سفر څخه یې خبر کړی وای، پکار خو دا وه، چې ولسمشر حامد کرزي د خپل هېواد

۳مخ

کابل ته د پاکستان د لومړي وزیر سفر ارزونې ...

ستونزې ډېرې کړي، دغه ټول او په دې وروستیو کې د سېلاوونو له املـه د پاکستان اقتصادي کمزورتیا د دې لامل شوې، چې پاکستان هڅه وکړي، خپل سیمه ییز او نړیوال تصویر ښه کړي. دا وروستۍ هلې ځلې، د همدغو هڅو یوه برخه ده.))

له بلې خوا، په افغانستان کې دمګړۍ له وسلوالو مخالفینو سره د سولې د خبرواترو اوازه هم ښه ګرمه ده، دولت په دې موخه عالي شورا جوړه کړه، خو داسې ویل کېږي، چې د سولې کېلې له پاکستان سره ده، دې ټکي ته په پام سره ښاغلی لېوال وایي: ((د سولې په پروسه کې، پاکستان غواړي، چې د دغه هېواد ګټې خوندي وي او تر هغو پورې چې دغه ګټې تضمین نه شي او یا هم پاکستان تر ډېر فشار لاندې رانه شي، زه فکر نه کوم، چې دغه هېواد به په افغانستان کې د سولې له پروسې سره صادقانه مرسته وکړي.))

خو له دې ټولو سره سره زیاتره افغانان په دې باور دي، چې په افغانستان کې د سولې او ثبات ټینګښت د پاکستان رښتینو هڅو ته اړتیا لري، ترڅو پاکستان په افغانستان کې له سولې سره هوکړه ونه لري، نو په دې هېواد کې د سولې او امن ټینګښت یو خوب بلل کېږي، په تېرو وختونو کې هم ډېرو پاکستاني لوړپوړو چارواکو، جنرالانو او ډیپلوماټانو کابل ته سفرونه درلودل، له کرزي سره یې ډېرې ژمنې هم وکړې، خو بیا هم په هېواد کې وضعیت لا هماغسې خرپر ان لاپسې خراب شوی، دا چې پاکستان ولې په دې تړاو صادقانه ګامونه نه اخلي او د دغو سفرونو پایلې به څه وي، افغان کارپوه او د کابل پوهنتون استاد پوهاند ودیر ساپی وایي: حقایق اوس هم افغان او پاکستاني ولس او هم ټولو نړیوالو ته روښانه شوي، په افغانستان کې سوله او امن د پاکستان رښتنیو ګامونو ته اړتیا لري، په دې پروتوکولي او نمایشي سفرونو او هڅو هېڅ هم نه ترلاسه کېږي. څو میاشتې مخکې کله چې له افغان مخالفینو سره د افغان حکومت د خبرو اترو اوازه ګرمه شوه، همدغه ګیلاني له یوې رسنۍ سره په مرکه کې وویل، چې له پاکستان پرته په افغانستان کې د سولې ابتکار ممکن نه دی. پاکستانیان په افغانستان کې خپلې ګټې لري، هغوی په دغه پروسه کې طبعاً خپلې ګټې په پام کې نیسي. هغوی غواړي، چې په افغانستان کې د هند نفوذ کم شي او د افغانستان په بیارغونه کې پاکستان ته ډېره برخه ورکړل شي، ان اوس پاکستانیانو وړاندیز کړی، چې د افغان پوځ په روزنه کې هم پاکستان ته موقع ورکړل شي. په هر حال، که د پاکستان غوښتنې و نه منل شي، او له دغو ابتکاراتو سره د دوی ګټې تامین نه شي، فکر نه کوم، چې په دغو نمایشي دیپلوماټیکو هڅو د افغانستان ستونزه حل شي.))

د شپې له خوا د اوباما ...

د ویکیلیکس له وېبپاڼې نه راوتلو پټو اسنادو ګڼ ښر ګونونه راپارولي، خو له بله پلوه د روانې میاشتې پر ۱۳مه ښایي ولسمشر اوباما د افغانستان لپاره پر خپله تګلاره بیا له سره غور او کتنه وکړي. اوباما د باګرام په پوځي اډه له خپلو پوځیانو سره په خبرو کې هغوی د افغانستان په جګړه کې بریالي وبلل او بری یې د ځان په ګټه حساباوه. نومورې زیاته کړه: "یو کال وړاندې مادې هېواد ته چې د سپتمبر د ۱۱مې بریدونو د پیل ځای دی، د نورو ځواکونو د راستولو لار ښوونه کړې وه. ټول هغه ځواکونه اوس رارسېدلي او ستاسې د سرښندنو له برکته دادی مورږ د پرمختګ په حال کې یو. تاسې د خپل هېواد ساتنه کوئ، تاسې خپلو موخو ته د رسېدو په حال کې یاست او ستاسې دا چاره به بریالۍ کېږئ، مورږ ویلي وو چې د طالبانو زیاتېدونکی خوځښت به ماتوو او تاسې پر همدغه کار بوخت یاست. تاسې په برید لاس پورې کړی دی. له دفاعي حالت نه راوتي یاست. د هغوی مشران مو په نښه کړي او لګیا یاست له خپلو قوي مرکزونو څخه یې وباسئ. مورږ نن پر دې ویاړلای شو چې د طالبانو تر واک لاندې سیمې په کمېدو دي او د ډېرې افغانان اوس دا امکان لري چې له هیلو د ډک راتلونکې ځانته وټاکي."

د بناغلي اوباما دا څرګندونې هغه څه دي، چې د افغانستان له عیني واقعیتونو او حالاتو سره هېڅ سر نه خوري، بلکې هر څه د ده د څرګندونو خلاف روان دي. ځکه اوباما خپلو پوځونو ته خطاب کوي، چې ستاسې د سرښندنو له برکته ده، چې مورږ نن د پرمختګ په حال کې یو. مورږ نه پوهېږو، چې دوی کوم پرمختګ ښیي او د دوی په نزد پرمختګ څه ته وایي؟ که دوی پرمختګ د جګړې د غځولو او د سولې له منځه وړلو ته وایي، نه دا خبره یې سمه، دوی بیا د ډېر پرمختګ کړی او حتا اتلولي یې هم تر لاسه کړې ده، خو که پرمختګ د واقعي سولې راوستل او د جګړې له منځه وړل وي، نو دوی په دې برخه کې پرمختګ څه چې سخته ماته یې هم خوړلې ده او د دې خبرې ښه ثبوت د افغانستان اوسني شرایط او اوسنی روانه او توده جګړه ده. همداشان اوباما خپلو پوځیانو ته وایي، چې تاسې په برید لاس پورې کړی او له دفاعي حالته وتي یاست، همداشان د طالبانو تر واک لاندې سیمې مخ په کمېدو دي. په حقیقت کې دا ډول خبرې د ولسمشر اوباما له شان سره نه ښایدې او هغه هم په داسې یوه هېواد کې چې ولس یې هر څه د سر په ستر ګو ګوري چې څه کېږي او څه روان دي. اوس واقعیتونه پټول اسانه کار نه دی، ولس پر هر څه پوهېږي او په دې پوهېږي، چې غواتوره پې. پې سپینې! همداشان دوی وایي چې د طالبانو تر نفوذ لاندې سیمې مخ په کمېدو دي، حال دا چې د هغوی فعالیتونه اوس د افغانستان پر سوبل او ختیځ سر ببره د افغانستان لوېدیځ او شمال ته هم غځېدلي دي او د افغانستان ډېره برخه یې د خپلو فعالیتونو په چارچوب کې رانغاړلې ده. په هر صورت دا هغه واقعیتونه دي، چې ولس ته ښه ترا څرګند دي او ډېر تحلیل ته یې اړتیا نشته. دلته دا خبره هم مهمه ده، چې اوباما ولې د شپې له خوا افغانستان ته سفر وکړ، ولې یې له افغان ولسمشر کرزي او د افغان دولت له نورو چارواکو سره ونه کتل او ولې بېرته ژر لاړ؟ دا هغه څه دي، چې په افغانستان کې د امریکا په اهدافو پورې تړلي دي. دوی ته یوازې او یوازې خپلې ګټې او خپل خلک مطرح دي، نه افغان دولت ورته ارزښت لري او نه هم د افغانستان ملت. ځکه دا ډېره د شرم خبره ده، چې د دوی په اصطلاح د افغانستان تر ټولو د لوی مرستندوی هېواد ولسمشر افغانستان ته راځي او بیا له افغان ولسمشر او یا له نورو افغانانو سره هېڅ کتنه نه کوي او د خپلو پوځونو تر لیدو وروسته برته خپل هېواد ته ځي. په حقیقت کې د نوموړي د دغه سفر مانا دا ښکاري شي، چې امریکا په افغانستان کې یوازې د خپلو ګټو د تر لاسه کولو په فکر کې ده او که په دې هېواد کې خپلې ګټې ونه لري، نو یوه ورځ به هم دوی دلته د افغان ولس د سوکالۍ او افغان دولت د پیاوړتیا لپار پاته نه شي.

نسیم بریال

دري پنځوسم ...

د ولسمشر په توګه په خپل هېواد کې د هغه هر کلی کړی وای، د هغه د سفر موخې او لاسته راوړنې رسنیو ته دواړو ولسمشرانو په یوه خبري کنفرانس کې ښکاره کړې وای؛ خو چې دا یو هم ونه شول؛ نو له دې څخه معلومېږي چې د امریکا ولسمشر بارک اوباما ته افغانستان یو خپلواک هېواد نه ښکاري، حامد کرزی ورته یو ولسمشر نه ښکاري، هغه داسې فکر کوي لکه افغانستان یې چې خپل یو ایالت وي، دی ځې خپل ایالت ته سفر کوي، په ایالت کې خپلو پوځیانو سره ګوري، د هغوی له کارونو څخه مننه کوي، د هغوی حوصلې لوړوي، پر شا یې ټپوي او بېرته ترې ځي، هغه ته دا مهمه نه ده چې له دا ایالت له ګورنر سره دې وګوري، ځکه ګورنر د هغه تر لاس لاندې سړی دی.

ما وویل کله به چې پاکستانیانو افغانستان ته خپله پنځمه صوبه ویله، نو ځینو افغانانو به په هماغه پاکستان کې هم سخت غبرګون ښوده، ځینې به غلي پاتې کېدل او ځینو به بیا ویل چې په اسلام کې سر حد نشته، پاکستان هم یو اسلامي هېواد دی او افغانستان هم، دواړه قومونه مسلمانان دي، بس مورږ له پاکستان سره پوله نه لرو.

اوس هم کله چې د (دري پنځوسم ایالت) په څېر کومه خبره راپورته کېږي، نو ځینې افغانان به ورسره سخت غبرګون ښیي او د افغانستان پر خپل هویت او خپلواکۍ به فشار راوړي، ځینې داسې دي چې دا خبرې ورته بې تفاوته دي، هېڅ غوږ پرې نه ګروي؛ خو ډېری یې داسې هم دي چې (په اسلام کې د پولي د نشت والي په څېر) د ګلوبلایزېشن یا نړیوال کلي په دلیل راوړلو دا خبره ډېره وړه ګڼي او د دې ارمان کوي، بلکې د خپل افتخار باعث یې ګڼي، چې افغانستان دې د امریکا دري پنځوسم ایالت شي.

دا خو لا پرېږده ځینې اوس داسې دي چې خپل پلرونه افغانان نه ګڼي او پر افغان ویلو ورته ځان سپک ښکاري، دومره ګوانښېرۍ چې وایي، که زه کور ته لاړم نو له موره مې پوښتنه کوم، چې زما څو پلرونه وو؟ که یوو؛ نو هغه خو ایرانی و او که دویم و، افغان، نو هغه به دې له ما پټ کړی وي. دا ډول خلک اوس په دې هڅه کې دي چې افغانستان په ایران پورې وتړي، دوی هم دې ته کار ویلی او په ډېر زیار یې ورته خدمت شروع کړی دی.

زه خو په دې هیله او په دې تمه یم چې انشاء الله دیوې ډلې ارمان به هم ځښتن تعالی نه پوره کوي، دا سپېره بادونه به که له خټیځه لګېږي، که له لوېدیځه، که له شماله او که هم له ایرانه، خو یو وخت به خامخا پر خپل مقام ودرېږي، افغان به افغان پاتې کېږي او ناافغانان به خپله له دې خاورې ورکېږي.

د همداسې یوې ورځې په هیله

په افغانستان کې د کاربدونکو ...

په افغانستان کې د روغتیایي خدمتونو او د ملوډ کیفیت تیټوالی سخته ستونزه ده: (روغتیایي ستونزې زمورږ په هېواد کې یوله ډېرو مهمو فکتورونو څخه دی، مورږ په دې برخه کې له سختو ستونزو سره مخ یو، د بشري سرچینو له پلوه، د درملو د کیفیت له پلوه او په نورو تولو روغتیایي برخو کې. خصوصي سکتور هم یوه داسې مسئله چې باید وڅېړل شي، ایا دغه سکتور له لازم کیفیت او لوازمو څخه برخمن دی.)

د افغانستان د عامې روغتیا وزارت سرپرستې ثریا دلیل وویل، دغه وزارت د روان کال په لومړیو نهو میاشتو کې د خپلې ۴۷ فیصده بودیجې په لګولو بریالی شوی دی، نومورې ولایتونو ته د روغتیایي کارکوونکو نه تګ یوه لویه ستونزه وبلله: (یوه ستونزه، چې مورږ ورسره مخ وو، د روغتیایي کارکوونکو په ویش کې د عدالت نشتوالی و، کارکوونکي په ښارونو متمرکز دي او لرو پرتو سیمو ته یې لېږل یوه ستونزه ده چې وزارت ورسره مخ دی.

دازادي رادیو د راپور له مخې، د افغان چارواکو له هلو ځلو سره سره خلک د عامې روغتیا په برخه کې له ښه ښه لوستونزو شکایت کوي، خلک وایي د روغتیایي خدمتونو او د ملود کم کیفیت له امله یې ډېر خلک اړ دي له هېواده بهر درملنې ته لاړ شي.

راز تقرر والی ها را هم ...

، با ایجاد این اداره در تعیین والی‌ها و ولسوال‌ها ضوابط و شایسته‌سالاری بیشتر درنظر گرفته شود، اما به دلایل مختلف از جمله نداشتن صلاحیت کامل، این اداره نقش مؤثر و اساسی در تعیین والی‌ها را نداشت و بیشترِ مقرری‌ها بازهم بر اساس مصلحت‌ها و روابط حزبی و تنظیمی صورت گرفت. شواهد نشان می‌دهد که تمامی والی‌های کشور در اثر فشار و حمایت حلقه‌های مختلف مقرر شده اند. بر اساس تحقیق کلید، رهبران سابق جهادی، شماری از مقام های بلندپایهٔ دولتی و کشورهایی که در افغانستان حضور نظامی گسترده دارند، همه در تعیین والی‌ها نفوذ و نقش برازنده دارند.

عبدالمالک صدیقی، معاون مالی و اداری ریاست مستقل ارگان‌های محلی نیز می‌گوید که این اداره نمی‌تواند، بر اساس معیارهای تعیین‌شده، والی‌ها را مقرر نماید: "ما برای تعیین والی‌ها معیارهایی داریم، اما متاسفانه که روابط بر ضوابط حاکم است. پروسهٔ پیشنهاد و طی مراحل اداری والی‌ها از طریق ما انجام می‌شود، ولی برای تقرر والی‌ها مقام ریاست جمهوری، معاونان ریاست جمهوری، رهبران جهادی و... همه از خود کاندید دارند و معرفی می‌کنند." این تحقیق که بر اساس مصاحبه با بیش از ۳۰ والی برحال، رهبران اپوزیسیون دولت، شماری از والی های سابق، نخبگان سیاسیِ هر ولایت و مقام‌های دولتی صورت گرفته، ارتباط هر والی را با رهبر و یا حلقهٔ سیاسی که او را به صفت والی توسط رییس جمهور مقرر نموده، نشان می‌دهد. بر مبنای این تحقیق، حزب اسلامی به رهبری گلبدین حکمتیار ۵ والی در کشور دارد. هر چند که تمام آنان رابطهٔ فعلی شان را با حکمتیار رد می‌کنند، ولی در عین حال تأیید می‌کنند که سال های متمادی عضویت این حزب را داشته اند. عبدالرب رسول سیاف، رهبر حزب اتحاد اسلامی ۴ والی دارد و سهم والی‌های عضو حزب او در حکومت از چند سال به این سو بر جای خود باقی است. جنرال عبدالرشید دوستم، رهبر حزب جنبش ملی اسلامی در حال حاضر ۳ والی دارد. حزب افغان ملت، نیز ۳ والی در ترکیب کنونی قدرت سیاسی دارد. حزب جمعیت اسلامی به رهبری برهان الدین ربانی در کل ۴ والی دارد که تعیین دو والی به حمایت مستقیم او و دو والی دیگر به حمایت غیرمستقیم او دانسته می‌شود. بر اساس مصاحبه‌های صورت گرفته، حاجی محمد محقق، رهبر حزب وحدت اسلامی مردم افغانستان، ۲ والی، مارشال محمد قسیم فهیم، معاون اول ریاست جمهوری ۲ والی، پیرسیداحمد گیلانی رهبر محاذ ملی ۳ والی، حضرت صبغت الله مجددی ۱ والی و محمد کریم خلیلی معاون دوم ریاست جمهوری نیز ۱ والی دارد. برپایهٔ گزارش کلید گروپ، به دلیل آن که برخی از والی‌ها در سال‌های گذشته و اکنون موقف سیاسی و حزبی خویش را تغییر داده اند و در حال حاضر با جناح‌های مختلف روابط دارند.

حدود یک چهارم مردم افغانستان ...

اعلام کرد، به رغم پیشرفت های صورت گرفته در برخی از مناطق افغانستان، پیامدهای ناشی از درگیری های جاری و آفات طبیعی بر مردم این کشور به حدی است که نیاز به کمک رسانی برای نجات جان مردم کما کان وجود دارد.

براساس این گزارش، افغانستان فاقد منابع غذایی کافی برای مردم این کشور است و تداوم جنگ بین نیروهای تحت هدایت سازمان ناتو و گروه طالبان که برای دهمین سال متوالی ادامه دارد، موجب بالارفتن هزینهٔ واردات این کشور شده است. همچنین بروز درگیری ها مانع کمک رسانی گروه های کمکی به بخش های زیادی از این کشور می شود.

ویکی لیکس و سوالات ...

که در آن مشخص شد، هلیکوپتر امریکایی غیرنظامیان عراقی را به رگبار بسته، دستگیر و با اتهام انتقال اسناد محرمانه مواجه شده است. وی ممکن است با حکم ۵۲ سال زندان روبه رو شود. ویکی لیکس از تایید اینکه برادلی مانینگ عامل انتقال این معلومات بوده، امتناع کرده است. حال تکلیف ما چیست؟ آیا برادلی مانینگ برای ما یک قهرمان است یا یک تبهکار؟ زمانی که دولتی به طور مخفیانه دست به یکسری فعالیت هایی هم چون به راه انداختن جنگ‌های متجاوزانه بر اساس یکسری معلومات ساختگی، بمگذاری‌های مخفیانه و ترور، مانورهای دیپلوماتیک با هدف جلب حمایت در دخالت در امور جهان می زند، مردم حق دارند بدانند که دولت شان چه اقداماتی انجام می دهد. منتقدان ویکی لیکس می گویند که سیاست خارجی نباید به صورت علنی مطرح شود، اما باید گفت که این ادعا اشتباه است. سیاست خارجی امپریالیستی است که به صورت علنی نیست و مخفیانه اداره می‌شود. روزنامهٔ لاس آنجلس تایمز امریکایی نیز این موضوع را به بررسی می گیرد و در گزارشی می نویسد: ((افشای این اسناد محرمانه توسط سایت ویکی لیکس مشکلاتی را برای امریکا ایجاد کرده است. در این اطلاعات این موضوع افشا شد که از دیپلوماتان امریکایی خواسته شده، از مقام های خارجی جاسوسی کنند. با این حال، اسناد اندک از این معلومات افشا شده باعث تعجب فعالان عرصهٔ دیپلوماسی شده است، چون آنها پیشتر به طور ضمنی در جریان این نوع موارد بوده اند. افشاگری های ویکی لیکس باعث شده تا مقامات امریکایی در موضع دفاعی قرار بگیرند و خود را در جایگاهی قرار داده‌اند که می‌خواهند از ویکی لیکس و مقاماتش شکایت کنند. با این حال افشاگری های ویکی لیکس اثبات عدم اتخاذ تدابیر لازم از سوی دولت اوباما برای حفاظت از اطلاعات محرمانه و سری امریکا است. این افشاگری اثبات ناکامی دولت اوباما در امور اطلاعات بوده است".روزنامهٔ شیکاگو تریبیون نیز در گزارشی با پرداختن به این مسأله می نویسد: "آشکارترین درسی که از افشاگری های ویکی لیکس می‌توان گرفت، این است که امور اطلاعات امریکا از کنترول مقام های این کشور خارج شده است و سیستم اطلاعات امریکا با خطر مواجه است. البته باید گفت که سیستم اطلاعات امریکا مدت ها پیش با مشکلات جدی مواجه بوده، اما با افشاگری های ویکی لیکس این موضوع اثبات شد. به گفتهٔ دیپلوماتان، این نوع اطلاعات در جوامع دیپلوماتیک امری شایع محسوب می شود، اما مطمیناً برای افراد عادی اطلاعات جالب و عجیبی به شمار می‌روند. این اطلاعات محرمانه تایید کرد که دنیا به مکانی خطرناکی تبدیل شده؛ جایی که اغلب مقامات برای پیشبرد منافع‌شان حتا با افراد منفی و تبهکار نیز همکاری می‌کنند و دست به یکسری اقدامات ناخوشایند می‌زنند."

در کل به دنبال انتشار این اسناد محرمانه توسط سایت ویکی لیکس جاروجنجال‌های بسیاری در عرصه اطلاعات و دیپلماتیک به راه افتاده است. هنوز به طور دقیق مشخص نیست که اهداف پشت پرده سایت ویکی لیکس از انتشار این اسناد آیا فقط شفاف سازی بوده و یا منافع قدرت‌های جهان نیز در افشای این اسناد دخیل بوده‌اند؟

کابل ته د پاکستان د لومړي وزیر سفر ارزونې او پایلې

خپلواک


SAYED JAN SABAOON (RFE/RL)

د پاکستان لومړی وزیر یوسف رضاګیلاني پرون په یو دوه ورځني سفر کابل ته ورسېد. ګیلاني له افغان ولسمشر حامدکرزي هم سره لیده کاته درلودل.

یوه میاشت وړاندې ولسمشر کرزي له یوسف رضاګیلاني سره په یوه ټلیفوني اړیکه کې د کابل او اسلام اباد ترمنځ د اړیکو د پراخوالي غوښتنه کړې وه.

ښاغلي کرزي او ګیلاني په دې ټلیفوني اړیکه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د امنیتي ځواکونو ترمنځ پر ډېره همغږۍ، د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې پر پراخوالي او د سوداګریزو اړیکو پر پراختیا خبرې کړې وې.

سیاسي کړۍ کابل ته د پاکستان د صدراعظم دا سفر مهم بولي ځکه چې د لیزبون د غونډې تر موافقې وروسته ترسره کېږي، چې له افغانستانه د بهرنیو عسکرو تدریجي وتل او افغان امنیتي ځواکونو ته د دغه هېواد د امنیتي چارو سپارل یې تصویب کړل.

د پاکستان د بهرنیوچارو وزارت وایي: ((دا هېواد له وروراوافغانستان سره اړیکو ته خاص اهمیت ورکوي. په تېرو دوو کلونو کې د دواړو هېوادونو په اړیکو کې د نښه والي لور ته لوی ګامونه پورته شوي، په تېره بیا د اقتصادي اړیکو په برخه کې او همداراز د دواړو هېوادونو د خلکو ترمنځ.))

پاکستان وایي، چې د افغانستان په بیارغونه کې یې مهم رول لوبولی او تراوسه پورې یې له دې هېواد سره د درې سوه میلیون ډالرو مرسته کړې ده.

د سید یوسف رضا ګیلاني دغه سفر افغانستان ته د ده لومړنی سفر دی. تېر مهال کله چې په لوېدیزو رسنیو کې دا اوازې خپرې شوې، چې ګواکې افغان چارواکو د طالبانو له ځینو لوړپوړو کسانو سره د سولې په اړه خبرې کړې دي، ګیلاني هغه مهال د سي. ان. ان امریکایي شبکې ته ویلي وو، چې په افغانستان کې د پاکستان له مرستې پرته سوله ناشونې ده. دا چې د دغه سفر مهمې موخې څه، ارزښت یې څرنګه ارزول کېږي او د سولې پر روانه پروسه باندې به یې اغېزې څه وي، دغه موضوع مور له یو شمېر افغان کارپوهانو سره څېړلې، چې لنډیز یې په لاندې توګه وړاندې کېږي:

د سیاسي چارو کارپوه او د افغان نشراتي مرکز رییس ښاغلي حاجي سید داوود په دې اړه وایي: ((له کوم وخت څخه چې سیدرضا یوسف ګیلاني صدارت ته رسېدلی، دغه سفر افغانستان ته د ده لومړنی سفر بلل کېږي، البته هغه څه چې د دې سفر په اجنډا کې ترې یادونه شوې، له ولسمشر کرزي، مرستیالانو یې، او همدارنګه د سولې عالي شورا او د افغانستان ولسي جرګې له رییسانو سره لیده کاته، همداراز په کابل کې د پاکستان د نوي سفارت پرانیستنه، چې په ۱۹۹۵ کال کې د یو قهرجن لاریون په لړ کې سوځېدلی و. همداشان په کابل ښار کې د پاکستان په مرسته جوړ شوی د جناح په نامه د یو روغتون پرانېستنه او همدارنګه له افغان دولت سره په سوداګریزو، ښوونیزو او اقتصادي برخو او د سکالرشیپونو په برابرولو کې د پاکستان د مرستې پر سر او له افغانستان د ناټو او امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته د افغانستان د امن او ټیکاو په برخه کې د پاکستان د رول او ونډې په تړاو خبرې شاملې دي.))

خودا چې د دې خبرو اترو تر شا کومې موضوعګاني ډېرې تر بحث لاندې نیول کېږي، ښاغلی داوود په دې اړه څرګندوي: ((زما په باور، دمګړی د پاکستان ملکي حکومت په خپله خاوره کې له سترو ننګونو سره مخ دی، له یوې خوا، طبیعي افاتونو هر څه وران کړي، له بلې خوا، د پاکستان د خلکو اقتصادي ستونزه او د دغه هېواد بې ثباتي، د ملکیانو تر مشرۍ لاندې حکومت ډېر کمزوری کړی، په داسې حالاتو او اوضاعو کې د پاکستان ملکي حکومت له دې څخه ډارېږي، چې پوځي قیام و نه شي، نو له دې امله، دوی هڅه کوي، چې په دا ډول سفرونو سره، له یوې خوا هم افغانستان او هم نړیوالې ټولنې ته، دا وښیي، چې د پاکستان ملکي حکومت په افغانستان کې د سولې او امن له ټینګښت سره لهوالتیا لري، په دې لاره کې هڅه کوي او په دې توګه خپله بقا لټوي.

له بلې خوا، **د هغو توافقاتو پر سر به بیا خبرې وشي، چې لس میاشتې مخکې یې د کرزي او پاکستانیانو ترمنځ صورت موندلی و، هغه مهال، د همدغو توافقاتو په لړ کې پاکستاني چارواکو کرزي ته ډاډ ورکړی و، چې که امریکا او ناټو له افغانستان څخه په شا شي، نو پاکستان چمتو دی، چې له کرزي سره په ټولو برخو کې مرسته وکړي**، خو په ټولیزه توګه د دغه سفر تر شا پټ هدفونه په دوو مهمو ټکیو رالنډولای شو:

الف: پاکستان غواړي، له دې اړخه د افغانستان، پاکستان او نړیوالو پر عامه افکارو باندې مثبتې اغېزې وشیندي.

ب: پاکستان غواړي، چې له افغانستان څخه د ناټو او ایساف ځواکونو د وتلو په صورت کې، په دې هېواد تر نورو ګاونډیو او سیمه ییزو هېوادونو لکه روسیې، منځنۍ اسیا هېوادونو، هند او ایران په پرتله کلیدي ونډه ولري، زما په باور له همدې امله ده، چې ښاغلي ګیلاني به د خپل دغه سفر په لړ کې یوازې له کرزي سره نه، بلکې د ده له دوو مرستیالانو فهیم او خلیلي او د ولسي جرګې له رییس قانوني سره هم ګوري، چې درې واړه، له پښتون قوم پرته له نورو قومونو سره تړاو لري، له دې نه داسې څرګندېږي، چې پاکستان غواړي په افغانستان کې دا ځل، تر پخوا هم کلیدي رول ولوبوي.

دا چې د دغه سفر ارزښت څرنګه جوتېږي او د سولې پر بهیر باندې به یې اغېزې څه وي، د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو د دفتر رییس عبدالغفور لېوال په دې اړه وایي: ((که څه هم د دغه سفر موخې، اقتصادي مسئلې ښودل شوي، لکه څرنګه چې په دې وروستیو کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ترانزیت ټرونلیک هم نهایي شو، خو په دې کې هم شک نشته، چې په دې ورځو کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ سیاسي مناسبات هم ډېر مهم دي، ځکه پاکستان هم ورځ په ورځ د نړیوالو تر زیاتېدونکي فشار لاندې راځي او دا فشار د ویکي لیکس د اسناد تر خپرېدو وروسته لا پسې زیاتېږي. زه د دغه سفر ارزښت په دوو درېیو ټکیو کې رالنډوم:

لومړی: د پاکستان د اتومي وسلې د وخوندیتوب مسئله.

دویم: پر هغو ډلو ټپلو د فشار زیاتول، چې په هندوستان او افغانستان کې پر وسلوالو لاسوهنو باندې تورنې دي.

دریم: په بلوچستان کې د وروستیو وژنو په اړه نړیوال غبرګون.

بله مهمه خبره داده، چې د ویکي لیکس اسنادو له مخې، پاکستان په ظاهره امریکا ته اجازه ورکوي، چې د پاکستان د خاورې په دننه کې د بې پیلوتو الوتکو یرغل ته دوام ورکړي، دې مسئلې په پاکستان کې داخلي فشارونه زیات کړې دي، په خپله د پوځ او لیبرال ګوندونو ترمنځ یې سیاسي

۳مخ

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده دوم – جزء ب: اتخاذ تدابیر قانونی و غیره از آن جمله اعمال تحریم در صورت اقتضاء به منظور جلوگیری از بکار بردن تبعیضات علیه زنان.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل:– 05 62 59 0700
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل:– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل:– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
0700244384
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com